عبدالغفور لېوال

۲۰۱۰/۰۸/۳۰م

# چې په تنګ شي نو په جنګ شي

ملګري مې په ټيليفون کې ګيله وکړه، چې ځينې په اصطلاح فرهنګيان، روښانفکران او لوستي خپل ملي مسؤليت په لوی لاس هيروي، چې ګواکې سياست يې بد راځي او نه غواړي په سياستمدارانو کې شمار شي.
زه فکر کوم، چې په افغانستان کې سياستونه دومره بدنامه شول، چې اوس هر څوک له سياسي بدنامی څخه ويرېږي.
يو شمېر ځانساتي فرهنګيان په لوی لاس مکتب لوستي او باسواده افغانان دې ته نه پرېږدي، چې د افغانستان د خلکو په مرګ، لوږه، بې سوادی او بده ورځ فکر وکړي. دوی وايي: نه! فرهنګيان بايد له سياسته لرې وي، يوازې شاعري وکړي يا کيسه وليکي يا هم کره کتنه وکړي، ځينې نور بيا وايي سياست ککړ شی دی او هر څه له ځانه سره ککړوي، په دې برخه کې زه قطعاً نه غواړم له سياست څخه دفاع وکړم او يا هم دا ووايم چې روښانفکران دې هرومرو سياست وکړي. خو ښايي دومره ووايم چې د ويښتيا او روښانتيا د پړاوونو په وړاندې ټول مسؤل اومکلف دي او هر څوک چې د خپلو هېوادوالو سلاخي ( قصابي) لوږه او په نړی کې تر ټولو بد حالت ته لاس تر زني کيني اوبهانه يې هم فرهنګي طهارت او تقوا وي نو ګومان مې نه شي چې دا تقوا يې قبوله شي.

ستونزه: درې لسيزو سياسي نېرنګونو، د پرديو لاسوهنو، په زبرځواکونو پورې تړليو سياسي ډلو او مکارو سياستوالو خلک د سياست له نامه سره حساس کړل. تردې چې سياست د دروغو، چل او تېر ايستلو بل نوم شو، په عامو خلکو کې داسې دود شو، چې څوک له چا سره نارېنتيني چلند وکړي، نو مخامخ لوری په ګيله ورته وايي: ګوره وروره له ما سره سياست مه کوه! ښايي سياست همداسې يو شی وي، خو عملي سياست له دې ملي او انساني احساس او کار سره کاملاً متفاوت دی، چې څوک دې د خپل ملت او هېواد د ژغورلو لپاره فکر وکړي او عملاً دې په زړورتيا سره د ژغورلو غږ پورته کړي، دا خوځښت له شوقه نه، بلکې له مجبوريته کيږي، ځکه وايي: **چې په تنګ شي، نو په جنګ شي!**

عملي سياست څه دی: په ساده ژبه عملي سياست هغه دی، چې څوک يا سياسي قدرت په لاس کې ولري او يا هم دهغه قدرت د ګټلو لپاره عملاً مبارزه وکړي. ددې ترمنځ د سياسي فشار او ريفورميستو حرکتونو رامنځ ته کول هغه څه دي، چې مدني ټولنه او د ويښتيا او روښانتيا ځواکونه يې ترسره کولای شي. ښايي د روښانتيا غورځنګ هېڅکله ونه غواړي چې حکومت راوپرځوي يا خامخا ځان سياسي قدرت ته ورسوي، خو د دوی ملي مسؤليت اومکلفيت دادی چې هېواد اوملت له سقوط، ناورين او مرګ څخه وژغوري.
د افغانستان لوستي، اغېزمن، روښانفکره او فرهنګي څېرې مسؤلې، مکلفې او مجبورې دي چې د افغانستان د روښانتيا غورځنګ پيل کړي، چې هېواد او افغان انسان له رواني فاجعې څخه وژغورلای شي. افغانستان يو ځل بيا د راپرځېدو ( سقوط) پر څنډه ولاړدی، نړيوالې دسيسې، سيمه ييزې توطئې او کورنی لنډه غرې ډلې غواړي دا هېواد درې وړې کړي، افغانان ووژني او ښوونځي يې ور وسوزوي، په همداسې حال کې ځينو لوستيو او روښانفکرو فرهنګيانو له دې ويرې، چې دسياست ټاپه پرې ونه لګيږي، د تارک الدنيا ژوند او فنافي الخيالات سوړې ته پناه وړې ده او په دې توګه سياسي ټولنيز ډګر يا بې رحمه ټوپکوالو، قاچاقبرو، مافيايي سوداګرو او وژونکو ته ور پاتې دی او يا هم د سيمه ييزو کړيو ګوډاګيانو او نړيوالو جواسيسو ته، هومره چې ګوته په شمېر ملي او پر افغانستان دردمن سياستوال هم د دوی د بدنامه سياستونو په بوږبوکيو کې ورک دي او په اصطلاح ( در کان نمک رفت ونمک شد.)

دريېمه لاره : يو ملي فکري او عملي محور بايد رامنځ ته شي او د روښانفکرو، لوستيو، فرهنګيانو، متنفذو، اغېزمنو شخصيتونو او د نېکنامو سياستوالو په ګډون ښايي د ويښتيا غورځنګ سر را پورته کړي، چې ملت له سقوط څخه د ژغورلو تر پولې ورسوي، که څه هم ونه غواړي چې ځواک ونيسي او يا کوم حکومت را وپرځوي خو افغانستان او افغان انسان بايد وژغورل شي.
ملت ولې پريشانه دی؟ ولې د خپلو پوښتنو ځواب نه لري؟ ولې د همدې څو تکراري څېرو او ډلو په فوټبال کې راګېر دی، ځکه ګنو روښانفکرانو او فرهنګيانو خپل رسالت نه دی ترسره کړی، دوی ښايي د يوه منظم ملي جوړښت په دننه کې منسجم شي، د افغانستان لپاره يوه علمي اقتصادي طرحه رامنځ ته کړي، پر حکومت فشار راوړي چې هغه عملي کړي، افغان انسان بايد د پوهې اوملکيت خاوند شي، دويښتيا غورځنګ بايد افغانان له ملي، سيمه ييزو او نړيوالو دسيسو څخه خبر کړي او له دې لومو څخه يې د راوتلو لاره هم وروښي.
د ويښتيا غورځنګ بايد د افغانانو د عامه ذهنيت رهبری ته ځان ورسوي او وکړای شي، چې د مبهمو سياسي پرمختګونو په دې توپان کې خلک ويښ وساتي، پوښتنو ته يې ځوابونه وومومي او د اصلاح او مثبت خوځون پر لور


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

او لارې يې ورسم کړي. دعامه ذهنيت د رهبرۍ د ترلاسه کولو لپاره کړنلارې زموږ په نورو بحثونو کې معرفي شوي دي.
د دربېمې لارې په دې برخه کې په ټولو روښانفکره افغانانو غږ کوم، چې دوېښتيا د غورځنګ د رامنځته کولو حياتي او تاريخي وخت دی، که مو دا هم له لاسه ورکړ، نو وطن له لاسه وتلی بولۍ.
موږ په تمه يو، چې د يو چا له خولې واورو:

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ